# څړیکه - د جرس مجلې یو معدومه شعري صنف

# Sreeka. The extincnt Genre of Jaras Magazine

Gul Wazir*

**Abstract:**

Sreeka is one of the extinct genre of Pashto poetry that was based upon Tappa. This genre started with the second number of quaterly Jaras.The motive behind this was initiation of some adopted genres like Haiko and Waka in Pashto poetic arena. Tahir Afridi, editor of Jaras wanted to have a genre that seems the genre of Pashto. Thus, this new genre was named "Sreeka". Some Sreekay (singular Sreeka) were published in quaterly Jaras but many opposed this new genre. Hence the trial based journey of Sreeka stopped and did not gain popularity.

**Keywords:** Poetry, extinct genre, Sreeka, Tappa, Jaras Magazine,Tapaeeza, Takoreeza

د پښتو په ادبي صحافتي تاریخ کښې جرس د پښتو او قند نه پس دریمه معیاري مجله ګڼلې شي چې د پښتو ژبې او ادب پهٔ وده کښې ئې ډېر ستر کردار تر سره کړے دے. په دې مجله کښې د " څړیکه " په نوم د پښتو د شعري اصنافو یو نوے صنف په وړومبي ځل مخې ته راغلو خو د بده مرغه دا تجرباتي سفر د جرس مجلې د لوستونکو د ناخوښۍ په وجه په التوا کښې پاتې شو.

## د څړیکې جوړښت :

څړیکه هم د ټپئیز نظم ، ټپئیزې او ټکوریزي په شان په ټپه اډانه وه. په څړیکه کښې به ټولې شپږ مصرعې وې. اولنې درې مصرعې به یې لکه د ټپې د اولې مصرعې نهه نهه سېلابه وې. څلورمه او پینځمه مصرعه به یې لکه د ټپې د دویمې مصرعې دیارلس سېلابه وې او شپږمه مصرعه به یې نهه سېلابه وه خو دا به د ړومبنې مصرعې تکرار وو. په جرس مجله کښې چاپ شوې وړومبې څړیکه داسې وه :

" په غړمبېدلو سپو را تېر شه
د رقابت څواني ګنډېر شه
د پښتنې مینې د پاره
په خونړو چړو به زهٔ درتېره شمه

* Ph.D Scholar Pashto Academy UOP.

لالیه نن خپله پښتو سر ته کۀمه
په غړمبېدلو سپو را تېر شه " (1)

## د ثړیکې اغاز:

د ثړیکې د اغاز په باره کښې د جرس مجلې مرستیال قېصر اپریدے وائي:

" د جرس د اجراء نه پس د مجلې مدیر طاهر اپریدي د دې خواهش اظهار وکړو چې پښتو کښې د هائیکو او واکا په رنګ یو داسې شعري صنف راوړل پکار دي چې د مزاج په اړه د پښتو خپل صنف ښکاري. په دې لړ کښې ریاض تسنیم زما په مشوره څو ورځې پس ځینې نمونې وړاندې کړې چې له هغو په ثړیکه نومې صنف ټول متفق شول. دې صنف د پاره ما د ثړیکه او ښکالو په شمول یو شمېر نومونه تجویز کړل چې د اروا ښاد سعید ګوهر په ایماء پکښې ثړیکه نوم غوره کړے شو. د سعید ګوهر صېب دریغ دا وؤ چې د ځینې نومونو لکه ښکالو په ځاے ثړیکه ځکه غوره دے چې د دې واحد او جمع جوړېدے شي " (2)

د ثړیکې اغاز د جرس مجلې د دویمې سلسلې جنوري ـ مارچ ۱۹۹۱ء نه شوے وؤ. په دې ګڼه کښې د روښان یوسفزي لیکلې شوې درې او د قېصر اپریدي څلور ثړیکې شاملې وې. په دې ګڼه کښې د جرس اداري له اړخه د " یادګېرنه " تر عنوان لاندې دا نوټ لیکلے شوے وو.

" د جرس اداره د پښتو شاعرۍ یو نوے صنف پښتنو لیکوالو او لوستونکو سره متعارف کوي. دغې صنف ته مونږ في الحال د ثړیکه نوم ورکوؤ او په دغه لړ کښې مونږ د لیکوالو نه د طبع ازمایي ، رائې ، تجویزونو او تنقیدي لیکونو خواست کوؤ. د ملګرو تجویزونه ، تنقیدونه به زمونږ د پاره لویه ادبي سرمایه وي. لکه څه رنګ چې د بهرني ادب صنفونو لکه هائیکو ، واکا او ترائیلے پښتو ادب کښې ځاے اوموندو هم دغه رنګ مونږ د پښتو مشهور صنف ټپې نه دغه نوے صنف ثړیکه اخستے دے. دې نه زمونږ دوه مقصدونه دي. یو خو دا چې د پښتو ټپه به ژوندۍ او ودانه پاتې شي او دویم دا چې د پښتو ادب کښې به خالص پښتنے صنف هم را پېدا شي او دغه رنګ به د پښتو ادب لمن پرې نوره هم درنه او ډکه شي." (3)

په ابتدا کښې چې قېصر اپریدي او روښان یوسفزي کومې ثړیکې د نمونې په توګه لیکلې وې هغوي د د ټپې د متن په تشریحي بڼه اډانه وې خو دا دې ثړیکې د پاره څه قانوني بنیاد نه وو. دا صرف یوه نمونه مخې ته راوړل وو. روستو قېصر اپریدي طبع زاد ثړیکې هم ولیکلې چې دلته د نمونې په توګه ترې یوه راوړو:

زمونږ د کلي خوارې برخې
دا د لرګو ورستې کوډخې
زمونږ د سر د پاسه سیورې
راځئ چې ټول په دعا پورته کړو لاسونه

باران وربېږي د خپل سر غواړئ خېرونه
زمونږ د کلي خواري برخې (4)

د جرس مجلې په دويمه ګڼه کښې د څرېکې د چاپ کېدو نه پس په درېمه ګڼه کښې د ځينو ليکونکو خطونه چاپ شوي دي چې په هغو کښې يې د دې صنفي تجربې سره اختلاف څرګند کړے دے.د دوي د رايې مطابق هر کله چې د ټپې په صورت کښې يو لرغونے صنف په پښتو کښې شتون لري نو د هغې په موجودګۍ کښې د داسې صنفي تجربې هيڅ ضرورت نيشته چې بنسټ يې په ټپه ولاړ دے. په داسې کولو سره به د ټپې شهرت او مقبوليت ته نقصان ورسېږي. دې سلسله کښې چې جرس مجلې ته کوم خطونه په څرېکه د تبصرې د پاره راغلي وو هغې کښې يو خط د فيض الوهاب فيض دے چې د څرېکې په اړه يې خپل خيالات داسې څرګند کړي دي:

" په جرس کښې يو نوے صنف سخن (څرېکه) متعارف شوے دے چې پرې ښاغلي روښان يوسفزي او قېصر اپريدي طبع ازمائيلې ده او د پښتو ليکونکو نه پرې د رايې خواست هم شوے دے. پښتو شاعرۍ کښې د نوي صنفونو رائج کول که هغه بهرني وي يا خپل ، ډېره ښه خبره ده خو هله چې د هغې ضرورت وي. ځکه چې هسې د خوند د پاره په يو نوي ادبي صنف طبع ازمائل زما په خيال شاعرۍ او ژبې ته هيڅ فائده نه ورکوي." (5)

يو بل ليکونکے احساس اپريدے په دې باب په خپل خط کښې ليکي :

" جرس کښې يو نوے پښتنے صنف څرېکه په اول ځل د جرس ادارې له خوا متعارف کړے شوے دے او عرض يې دا بيان شوے دے چې دغسې به يو خو پښتنے صنف پښتو ته راګډ کړے شي او بل به د څرېکې له مخه پښتو ټپه ژوندې پاتې شي. پښتو ته يو نوے صنف را ګډول به يقيني طور سره چې د ستائينې وړ کار وګرځي خو د متعارف کړې شوې څرېکې په شکل صورت کښې نه.زۀ د متعارف کړې شوې څرېکې سره اتفاق نه لرم ځکه چې څرېکه د ټپې نه په داسې انداز کښې راخستې شوې ده چې هره څرېکه د متعلقه ټپې يو منظوم وضاحت دے او ټپه د وضاحت محتاجه نه ده" (6)

د څرېکې په باب د ځينې ليکونکو د سخت رد عمل نه پس هم په سلسله ۴ کښې د فاروق مظهر ليکلې شوې څلور څرېکې چاپ شوې چې مونږ ترې يوه دلته د نمونې په توګه راوړو

وطن زما نه پاتې کېږي
زړګے مې ډېر پسې خوږېږي
نن په سينه کښې ناقلار دے
لکه مرغۍ په ډکو شپې ورته کومه
زۀ د غمونو شوګيرې ورته کومه
وطن زما نه پاتې کېږي (7)

## د څړیکې خاتمه:

څړیکه د یوې نوې فني او صنفي تجربې په توګه راوړاندې شوې وه خو د لیکوالو د سخت ردعمل په توګه دا صنف په هم دغه ځاے پرېښودے شو ـ په دې سلسله کښې د جرس مجلې مرستیال روښان یوسفزے وايي:

" مونږ کوشش کولو چې د جرس په واسطه د پښتو شاعرۍ په اصنافو کښې یوه نوې اضافه اوشي ـ خو زمونږ مطلب دا صنف په زور مسلط کول نه وؤ ـ ځکه نو مونږ د جرس مجلې په ذریعه د پښتنو لیکوالو رایې هم غوښتې وه چې د دې صنف په حقله راسره خپل خیالات شریک کړي ـ د دې په نتیجه کښې مونږ ته د ځینې مستندو او معتبرو ادیبانو دریځ د دې نوي صنف په مخالفت کښې تر لاسه شو ـ د دوي دا خیال وؤ چې دا صنف د پښتو ټپې مقبولیت ته نقصان رسوي ـ دغه وجه وه چې مونږ دا نوے صنف په هم دغه ځاے پرېښودو او مونږ پرې نور کار او نه کړو ـ روستو چې کله د ټپې نه ټپئیزه را اوته نو اوس فکر کوم چې که چرته مونږ په څړیکه کار کړے وے نو نن به د ټپئیزې ضرورت نه پېښېدو او څړیکه به تر اوسه د پښتو یو مشهور او مقبول صنف ګرځېدلے وو ـ " (8)

د څړیکې نه پس د پښتو شعري اصنافو بل نوے صنف کوم چې د ټپې نه راوتے دے ، هغه ټپئیزه دے ـ د ټپئیزې په باره کښې ساجد محمد شائق لیکي:

" ټپئیزه د پښتو ادب مېدان ته د یو صنف په حېث اوس اوس یعني درې څلور کاله اګاهو راغلې ده ـ نن سبا یې ډېر شهرت موندلے دے ـ سندرغاړي یې ډېر په خوند خوند وائي او اورېدونکي ترې هم خوندونه اخلي ـ جوړښت یې داسې وي چې د یوې ټپې د اولې مصرعې نه وړومبے درې مصرعې داسې لګولے شي چې د وزن بحر، قافیه ( ردیف ) او خیال (مضمون ) په لحاظ هم د هغه اولې مصرعې غوندې وي او بیا وروستو ( د ټپې ) خپله دوېمه اوږده مصرعه ۱۳ سېلابیزه ولګولے شي ـ یعنې اولې نهه سېلابیزه مصرعې یې د یوې په ځاے څلور وي او دوېمه مصرعه یې یوه وي لکه د عامې ټپې ـ د ټپئیزې نمونه:

زړۀ مې په یو دوه کښې حېران دے
راغلے داسې امتحان دے
زما په دواړو ځان قربان دے
یو خوا پښتو بل خوا جانان دے
زۀ د پښتو زنځیر شلوم جانان له ځمه (9)

د څړیکې په شان د ټپئیزې په بابله هم د پښتو د ځینو پوهانو له خوا سخت رد عمل مخې ته راغلے دے ـ په دې لړ کښې لال باچا ازمون لیکي:

" زما وړاندیز دا دے چې طبعي لنډۍ باید په هماغه خپل خوند او رنګ ،سکښت او جوړښت راټولې او خوري شي ـ که دا لاره خلاصه شوه نو مونږ به له ډېرو فورمونو خلاص شو ـ سبا به نور ځوانان جګېږي او په نورو زړو

فورمونو به خپله وينا داسې ورغورځوي چې له هغه پخوانۍ وينا سره به هم څه تړاو نه لري. ښه اوس پوښتنه دا ده چې که دا مونږ يو نوے فورم اوبولو نو بيا لنډۍ څه شوه ؟ لنډۍ خو د اولس مال او د يو نا څرګند ويونکي وېنا ده. کله چې په ټپئيزه کښې راغله، ټپئيزه خو خپل وېنا وال لري ، نو دغه وينا وال د اولس مال په خپل نوم کړو. هغه کوم ارزښت چې مونږ سره وؤ، او پرې حساب مو کاوه، هغه له خپله مېنځه لاړو. داسې ښکاري چې د دغه وتلي فورم د ارزښت خاورې کولو او تاريخي قدامت له مېنځه وړلو پسې راخستې شوې ده." (10)

د ټپئيزې سره سره ټپئيز نظم او ټکوريزه هم داسې صنفونه دي چې د ټپې نه راوتي دي او دې د اصنافو په باره کښې هم د پوهانو له خوا هم دغه دريځ مخې ته راغلے دے چې دا نوي صنفونه د ټپې طبعي جوړښت او تاريخي حېثيت ته زيان رسوي او د ټپې مقبوليت کموي خو ولې د څړيکې په ترځ کښې دغه صنفونو خپل وجود برقرار ساتلے دے او اولس په څه نا څه شکل کښې د قبوليت درجه ورکړې ده. د دې يوائينې وجه دا ده چې ټپئيزې ،ټپئيز نظم او ټکوريزې ته د قبوليت مقام موسيقۍ ورکړو. که چرته په خپل وخت کښې څړيکې هم د ټپئيزې او ټکوريزې په شان د هنرمندانو فکر ځان پله راګرځولے وے نو نن به څړيکه هم په اولسي کچ يو ډېر مشهور او مقبول صنف وے.

## حوالې

1. روښان یوسفزے ، څړیکه ، مشموله درې میاشتنۍ جرس کراچۍ، جرس ادبي جرګه کراچۍ،سلسله ۲ ، جنوري ـ مارچ ۱۹۹۱ء ، ص ۱۵۳
2. قېصر اپریدي ( د جرس مرستیال ) سره مرکه، پېښور ،۷ مارچ ۲۰۲۳
3. درې میاشتنۍ جرس کراچۍ، جرس ادبي جرګه کراچۍ، سلسله ۲ ، جنوري ـ مارچ ۱۹۹۱ء، ص۱۵۲
4. قېصر اپریدي ( د جرس مرستیال ) سره مرکه، پېښور ،۷ مارچ ۲۰۲۳
5. فېض، فېض الوهاب ( خط) مشموله درې میاشتنۍ جرس کراچۍ ، جرس ادبي جرګه کراچۍ، سلسله۳، اپرېل ـ جون ۱۹۹۱ء،ص ۱۲۵
6. اپریدے، احساس ، ( خط) مشموله درې میاشتنۍ جرس کراچۍ ، جرس ادبي جرګه کراچۍ، سلسله۳، اپرېل ـ جون ۱۹۹۱ء،ص ۱۲۶.۱۲۷
7. مظهر ، فاروق ،څړیکه ، مشموله:درې میاشتنۍ جرس کراچۍ، جرس ادبي جرګه کراچۍ، سلسله۴ ، جولائي ـ ستمبر ۱۹۹۱ء، ص۲۸
8. روښان یوسفزي ( د جرس مرستیال) سره مرکه ، پېښور ، ۱۴ مارچ ۲۰۲۳
9. محمد ، ساجد شائق، څرګنده خزانه، پښتو ادبي ټولنه، تخت بهائي ،۲۰۱۵ء ، مخ ۱۸۲.۱۸۷
10. ازمون، لعل باچا ، پوهنوال، پښتو نظم پوهنه (پي ایچ ډي ډیسرټېشن)، کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځے، د ختیځ خپرندویه ټولنې تخنیکي څانګه، جلال اباد ، ۱۳۹۷ل۲۰۱۸ م کال، ص ۷۵۰

REFERENCES
1. Rokhan Yousafzai, Sreeka, Mashmoola Dary Miashtanai Jaras Karachi, Jaras Adabi Jarga Karachi, Silsila 2, January-March 1991, P:153
2. Qaisar Afridi ( da Jaras Mrastial) sara maraka, Pekhawar, 7 March, 2023
3. Dary Miashtanai Jaras Karachi, Jaras Adabi Jarga Karachi, Silsila 2, January-March 1991, P:152
4. Qaisar Afridi ( da Jaras Mrastial) sara maraka, Pekhawar, 7 March, 2023
5. Faiz, Faiz Ul Wahab,(Khat) , Mashmoola Dary Miashtanai Jaras Karachi, Jaras Adabi Jarga Karachi, Silsila 3, April-June 1991, P:165
6. Apriday, Ihsas(Khat) , Mashmoola Dary Miashtanai Jaras Karachi, Jaras Adabi Jarga Karachi, Silsila 3, April-June 1991, P:166-167
7. Mazhar, Farooq, Sreeka, Mashmoola Dary Miashtanai Jaras Karachi, Jaras Adabi Jarga Karachi, Silsila 4, July-September 1991, P:68
8. Rokhan Yousafzai, (da Jaras Mrastial) sara Maraka, Pekhawar, 14 March 2023
9. Muhammad, Sajid Shaiq, Sarganda Khazana, Pakhtoo adabi Tolana, Takht Bhai, 2015 P:186-187
10. Azmoon, Laal Bacha, Pohanwal, Pakhtoo Nazam Pohana,(Ph.D Desertation) Kabul Pohantoon, da Jabo aw adabiato Pohanzai, da Khateez Khparandoya Tolany TeKhniki Saanga, Jalalabad, 1397 L, 2018 M, P:750